مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

آصف بهاند

۲۰۱۷/۱۲/۰۴

# زما به له خوښي نه زړه درمنډې کړي

رابــه شي، بيـا رابـه شي، پخلا بـه شي
مــاتــه چې وګـوري، پــه خـنـدا بـه شي

زما بـانــه او سترګي بـــه ســلام وکـړي
ستا بـاړخــو او شونــډې بـه کـلام وکـړي

تـه بـه نـور څه نـــه وايـې، مسکی بـــه شي
تـانـده لـکـه لـښـتـه او تـنـکـی بـــه شي

ښي خولې بـه ستـا پر تنــده منـډې کړي
زمـا بــه لــه خوښي نــه زړه درمنـډې کړي

و بـې نـيسـي تـــه پـلـو کـې غـلـی ښـه
را بـېـولـې بـيــرتــه پــه لار پـلـی تــه

ستا زړه بـــه ګـوګل کـې ګـلان وســـپړي
زمـا زړه به خوښی نــه ښه ډيــر ورغـړي

لاړ بــه شــو لـه نــرخ د زمـانـې نــه پـټ
جـوړه بـه د مـيـنـې دنـيـا ګـی پـه مټ

ستا لـه خولې چې نن د مـيـنــې ســاز وشو
نـــوی ژونـد شـو، بـــيـا نـوی آغـاز وشو

۲۰۱۷/۱۱/۱۲
هیدرسلیف
ډنمارک



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولـئ